ډاکتر رحمت ربی ځیرک یار ۲۰۱۸/۱۱/۲۴

# پلوراليزم + سيکولريزم = د اسلام پرمختيا
# د دستورالمديني په رڼا کې
(نهمه برخه)

## ټنګټکور(موسقيي) په سعودي عربستان کې:

زه ځيرکيار په اسلام دومره نه پوهيږم چي يا ورته څوک سيخ کړم يايي بې لارې کړم! زما په آند د مسلمانانو يو پام وړ مشکل دا دی چي ډېر ځلي يو څه په ورين تندي مني، بې له دې چي پخپله کره فکر، ژور بحث او تحقيق وکړي اود موضوع ډکون ته ورننوځي. زما په ټکنی تجربه، کله نا کله مسلمانان له بل شان يا مخالف نظر نه ډډه کوي.

که په قرآن مجيد کي (چي د اسلام د دين اصلي او بنسټيزه چينه ده) څه نه وي منع شوي، ولې دې د اسلام د پيغامبر په وينا (حديث) کې منع شي؟ ډاډه يم چي په دې موضوع بحث به زموږ ماغزه ستړي کړي؟ يو بل مثال: «سياسي استبداد او ټولنيزه نامبدي بيوزلي رامينځته کوي چي ديني افراط ګرۍ ته لار رانيځي.» دا نظر به کومي مېرمني ورکړی وي؟ اناهيتا راتبزاد، مَدَر تېريسا، که بېنظير بوټُو؟

عموماً مشکل په دې حل کېږي چي بحث پرې وشي، نه په دې چي تېره دي وربانديې کېښودل شي. اسلام د مسلمانانو د شمېر له مخي په نړۍ کي دوهم غټ دين دی، خو د بحث، استدلال، عِلم، او د عِلم د استعمال(تخنيک) په اړه ډېر وروسته پاتي شوی دی! نږدې دوه نيم زره کالونه وړاندې يوناني فيلسوف هيراکليتوس (۵۰۰ق.م. تر ۴۷۵ق.م)داسي ويلي وو:«يواځيني شی چي ثابت/پرلپسي دی بدلون دی.» په تېر بحث کي مي («قرآن د الله حديث دی») په ټنګټکور(موسيقي) يوڅه رڼا واچوله. اسلام نږدې ۱۴۰۰کالونه وړاندي د اوسني سعودي عربستان په زمکه کي په محمّد (ص) نازل شوی و. خوموسيقي پکي «پټه»(اَندرګرَوند) معامله وه.

که څه هم په عربستان کي وهابي سني اسلام ټنګټکور يوې تياري حقوقي سمځي ته ورټيله کړی و، سعودي هنرمند ربيح ساقرد سعودي په جده ښار کې د ۲۰۱۷ د جنورۍ په ۳۰ د تماشه چيانو زړونه ټکور کړل. آته زره (۸۰۰۰) نارينه عربانو په حماسي عشقي ترانو خپل زړونه ونازول. د عربانو «نامتو هنرمند» محمّد عبدو په بهرنی نړۍ کي د عربانو زړونه د يوې لسيزې په اوږدو کي خوښ ساتلي وو. خو په خپل هېواد سعودي عربستان کي يې خپله هنرمندي نشوه ښودلی! عبدو د ۶۰ تنو مصري ارکيسترَ او د دوه سندرغاړو له خوا بدرګه شوی و: يو يې سعودي ربيح ساغر و او بل يې سعودي شوی عراقي مجيد المهندس و.

دغه پيښه اقتصادي او ټولنيزو-کلتوري اصلاحاتو ته لار هواروي. په جده ښار کي کانسرت د «روتانا» کمپنی له خوا ترتيب شوی و. دغه کمپني په غټه کچه سعودي شهزاده الوليد بن تلال ته منسوبه ده. د سعودي عربستان «د عامه تفريح موسسه»(جنرَل اينټرټينمېنټ اَوتاريټي) له تېر کال راهيسي اَويا(۷۰) پروګرامونه چلولي وو. ولولَئ

Katie Paul, “Quietly at first, music comes back to Saudi Arabia”. www.reuters.com (January 31, 2017) [8 December 2017].


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## أسامه بن لادن هم له ټنګټکور نه خوند اخيست:

عرب نژاده مسلمان أسامه بن لادن چي په افغانستان باندې د پخواني شوروي اتحاد (۱۹۱۷تر ۱۹۹۱م) د يرغل په وړاندې يې د افغانو سره مالي او پاځونيزه مرسته کړې وه، د برهان الدين رباني د سړک الطوايفي په مهال(اپرېل ۱۹۹۲تر ۱۹۹۶) افغانستان ته ستون شو، او د طالبانو د واکمنۍ (سپتمبر ۱۹۹۶تر اکتوبر ۲۰۰۱) په مهال هم هلته پاتي شو. د «اسلامي» دلال پاکستان مشرانو د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره بن لادن په امريکې خرڅ کړ(۲مى ۲۰۱۱زبيز).
ويل کېږي چې بن لادن د انګلستان په اکسفورډ پوهنتون کې د انګرېزي ژبې د زده کړې کورس ته داخل شوی و. خو د انګرېزانو ټولنه يې په «اخلاقي لحاظ بې بندوباره»(مُورالي لُوز) ګڼلې وه. هغه کله ناکله د قيامت د ورځې صحنه ترسيموي او له انقلاب[قيامت ورځ] نه وروسته به د اسلامي نړۍ انقلاب رامينځته کېږي او ورپسې به د لويديز سره په سوله راځرخي. يعنې تر څو چې اسلام برلاسی شوی نه وي، د لويديز سره به سوله ونکړي. ولولئ:

Jason Burke and Kareem Shaheen, “ Bin Ladens’s Disdain for the West Grew in Shakespeare’s Birthplace, Journal Shows,” (theguardian.com 1 November 2017)[11 December 2017].

د جولای ۲۰۱۰ يو سند د عملياتګر محمود له خوا، د «ابو عبد الله» په يو پټ نوم[بن لادن؟] ليکل شوی و. ښايي دغه ليک به د القاعدې او د پاکستان د استخباراتو د اړېکيو يوه نمونه وي، که څه هم پاکستان په پرلپسې ډول دغه ډول اړيکې رد کړې وې. د مقتدار خان په آند، سيد قطب «آزاد فکره»(ليبرال) و او د اسلامي نړۍ «جان لاک» (انګريز سيايي مفکر: ۱۶۳۲تر ۱۷۰۴م) و. ولولئ:

Brookings.edu (28 July 2003)

بن لادن د محّمد قطب د ورور (سيد قطب) سره پېژندګلوي لرله، او د محّمد جمال خليفه د وينا له مخې يې په منظم ډول په کينګ عبدالعزيز پوهنتون کې د محّمد قطب ويناګانو ته غوږ نيولی و. د الازهر پوهنتون له خوا سيد قطب د «ارتداد/بدعت» په لړليک (فهرست) کې نيول شوی و او د «منحرف» ټاپه يې پرې وهلې وه. ولولئ:

Gilles Kepel, Jihad: The Trial of Political Islam. Translator: Anthony F. Roberts. Paperback. Belkan Press: An Imprint of of Harvard University Press, March 2003; John Calvert, Sayyid Qutb and the Orignins of Radical Islam. Collumbia University Press, 2010; Lawrence Wright, The Looming Tower: Al-Queda and the Road to 911. Vintage; Reprint edition (August 2007).

د لورينس رايټ په کتاب کې د سيد قطب ژوند ليک او له ۱۹۵۴زبيز را وروسته په مصر کې د اخوان المسلمين په تاريخ رڼا اچول شوې ده.
سيد قطب په ۱۹۶۶کې ووژل شو؛ مشهور کتاب يې «معالم فی الطريق» نوميده:

Sayyid Qutb, Milestone. First published in 1964

سيدقطب به خپلوانو او دوستانو ته د برتانوي هيند د ابوعلي مودودي (۱۹۰۳ تر ۱۹۷۹سپتمبر:نيويارک، امريکا) د ليکنو سپارښتنه کوله. نديم ف. پراچه ليکي چې: مودودی د «سياسي اسلام» لپاره هغسې دی لکه جرمن
مفکر کارل مارکس چې «د کميونيزم لپاره و.»

Nadeem F. Paracha, “Abdul Ala Maududi: An Existencialist History,” Dawn.com (updated Jnuary 1, 2015) [December 16, 2017]; Ian K. Smith, ”Sayyid Abu-A’la Maududi: The Islamic Politician and Leader of the Righteous Vanguard,” Newstatesman.com, July 2013[ Decmeber 16, 2017].


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مودودي د دلال پاکستان له راتوړلو نه ۶ کالونه وړانـدې، په ۱۹۴۱زییز کې په لاهـور کې «جماعت اسلامي» جوړ کړ. سید قطب د مودودي په څېر د رښتوني اسلامي ټولنې د رامینځته کولو خوبونه لیدل. دواړه په دې عقیده وو چې تمدن د اسلام او جاهلیه په مینځ کې یرغمل شـوی و، او اسلامي قوانین د عادلې ټولنې د جوړولو درمل و.

خو که نـوکې ژور فـکر وکـړو ویلی شو چې د سید قطب عـملیاتي تفـکر ښـایي د روسي انقلابي لـیډر ولادمیر اِیلیچ لیـنین (۱۸۷۰تر ۱۹۲۴) له نامتو لـیکنې(«څه وکړو»*، ۱۹۰۲) نه هم الـهام اخیستلی وي؛ ځکه چې دغه لیکنه په پوښتـنو او د انـقلاب په تکتیـکونو راڅرخېدله، او سید قطب هم د خپل فکر د عملیاتي کولو او بریالیتوب لپاره تکتیکونو او پـوښتـنو ته اړتیا لرله.

*) Vlademir Illich Lenin, What Is to Be Done? Burning Questions of Our Movement. March 1902; In German: Wlademir Illich Lenin, Was Tun? Brennende Fragen Unserer Bewegung? Maerz 1902.

ښـایي لینین به د خپل کتاب سرلیک (څـه وکـړو؟) د خپل نامتو اخلاقي-معنوي هېوادوال لیو نیکولایویچ تولستوي (۱۸۲۸تر ۱۹۱۰) له یو وتلي کتاب (نو موږ باید څه وکړو؟) نـه پور کړی وي. تولـستـوی په معتبره ـ اشـرافي کورنۍ کې زېږېدلی و، په ۵۰ کلنۍ کې عیسوي شوی و او د دین په سمـون پسې یې ملا تـړلې وه. تـولـتال ویلی شو چې تولستوی مساوات طلبه عیسوي او سوله غوښتونکی انارشیست و. د هغه کتاب(د خدای پاچاهي ستا په دننه کې ده) پـه شلمـه پېړۍ کـې د بې تـاوه پاڅون په دوه اتـلانو د هیند په مهاتما ګاندي (۱۸۶۹تر۱۹۴۸م) او په امریکا کې د محرومو تور پوټکو پـه مشر او عیسوي مولوي ډاکترمارتین لوتر کینګ (۱۹۲۹تر ۱۹۶۸م) اغیز اچولی و.

تولستوی په دې باور لاره چې عیسویت به دولت له مینځـه وړي او له دغه امله پخپله عیسی(ع) په دار شوی و. تولستوی نه په دې عقیده لرلـه چې عیسی(ع) د خدای ځوی دی، نه یې د عیسی(ع) په معجزو. خو تولسـتوی دا عقیده ټینګه نیولې وه چې د عیسویت رښتونی او کـوټـلی اسـتعمال بـه داسې ټولنې ته لارهواروي چې دولت اوکلیسا به نلري! د زور پـه مقابل کې زور ښودل سوله نه راولي، بلکې جګړه راولي. د «څـه بـاید وشـي؟» په سرلـیک د تولستوی کتاب په ۱۸۸۶م کې بشپړ شوی و.

Leo N.Tolstoy, What Then Must We Do?(Create Space Independent Publishing Platform, Februar 2016).

په اسلام کلک ولاړ أسامه بن لادن «د موسیقـي ذوق درلـود او د هـندي رومـانـتیـک سندرو تـر څنـګ یې د پښتو موسیقـي پـام وړ زېرمـه درلـو ده.» ولولئ:

Tolafghanistan.com (November 3, 2017)[ November 4 2017].

د اسلامي پاکستان مشـرانـو أسامه بـن لادن په امریکا خرڅ کـړ: د دواړو خـواو د مـشرانـو په پـټـه هـمکارۍ، د امریکې د خاص ټولي په برید سره بن لادن د ۲۰۱۱م د مې په ۲ نـېـټـه ووژل شو، او امریکایی عسکرو د بن لادن په کور کې د کمپیوټر «هـارډ ډرایو»(زېـرمه تون) د ځان سره وېـوړ چې معلومات ترې راوباسـي. د بن لادن د موسیقي(ټنګټکور) معلومات لـه هـمدغه زېـرمه تون نـه راوېستل شوي وو.

## د بن لادن د وژنې په اړه د تکره او دقیق امریکایي ژورنلیسټ سیمور م. هېرش نه واورئ:

Seymour M. Hersh, “The Killing of Osama bin Laden,”
London Review of Books’ Vol. 37, No. 10 (12 May 2015), pp. 3-12/10356 words

د سیمور هېرش د لیکنې له مخې د ۲۰۱۰ په اګست [ *زمری/وری* ۱۳۸۹لمریز] کې د پاکستان د استخباراتو یو لوړپوړي پخواني مامور، په اسلام آباد کې د امریکې په سفارت کې د امریکې د مرکزي استخباراتو( د سي. آی. أي.) د څانګې مشر جانتان بینک ته وویل چې د بن لادن استوګنځای/کلا ورته ښودلی شي په دې شـرط چې کـه په ۲۰۰۱ کې د بـن لادن پـه سـر اعـلان شـوې جایزه ورتـه ورکړل شـي. د دغـه پاکستاني معلوماتـګر لپاره د دروغو او رښتیا د معلومولو ماشین او چاریوه راوغوښتل شول. نوموړی د دروغـو د ماشیـن لـه ازموینې نه بـریـالی راووت.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

يعنې ادعا يې روغه راووتله. امريکې دغه معلومات له پاکستان نه پټ وساتل. ځکه که هغوی خبرشي، بن لادن به بل ځای ته ويسي.
د امريکې مرکزي استخباراتو د خپلو مشاهدو لپاره د پاکستان په ابټ آباد کې يو کور کرايي کړ چې وروسته د امريکې او د پاکستان د استخباراتو د تماس په مرکز واوښت. پخوانی پاکستانی جاسوس او کورنۍ يې په پټ ډول له پاکستان نه د واشنګټن سيمې ته ورسول شول، اونوموړی معلوماتګر د امريکې د مرکزي استخباراتو د مشاور په څير په کار بوخت شو. د امريکې د دولت د ادعا له مخې، د بن لادن د کفن او دفن مراسم د امريکې په عسکري بېړۍ کې اجرا شوي وو او مړی يې بحر ته سپارل شوی و. خو ليکوال سيمور هيرش دغه ادعا ردوي. نوموړی وايي چې د امريکې خاصو قواو له خپلې څرخکۍ (هليکوپټر) نه د بن لادن د جسم ځينې ټوټې د هندوکش په غرونو[ښايي د سپين غر يا وزيرستان/پکتيا په غرونو] کې واچولې.
«خورا چيچونکی دروغ» دا وو چې د پاکستان ستر درستيز جنرال اشفق پرويز کاياني او د پاکستان د استخباراتو مشر جنرال احمد شجاع پاشا د امريکې دوه خاصو عسکري چورلکو(هليکوپټرونو) ته د شپې په مهال هوايي لار پرانيستې وه چې بې د خطر له زنګ نه اِبټ اباد ته په توره تياره کې ورسيږي. هلته يې بريښنا کوټونه فلج کړي وو او په ټوله سيمه توره تياره خپره وه! په اِبټ آباد کې د بن لادن په استوګنځای کې وسله نه وه موجوده، ځکه چې دغه کلا د پاکستان د استخباراتو په ولکه کې وه.
سعودې عربستان د بن لادن د پټې ساتنې لپاره پاکستان ته پيسې ورکولې. سعودې له دې نه ويره لرله چې امريکه به پاکستان دې ته اړکړي چې بن لادن دې امريکې ته د سعودې او القاعدې د اړيکو په اړه وغږيږي. له بله اړخه، پاکستان له دېنه وېره لرله چې که سعودي عربستان واشنګټن په غوږ ووهي چې بن لادن په پاکستان کې ساتل شوی دی.
په اِبټ آباد کې د بن لادن د ساتنې کلا، څه کم دوه ميله د پاکستان له عسکري اکاډيمۍ نه لرې وه او له «تربيله غازي» نه (چې د پاکستان د استخباراتو د ځانګړو عملياتو مقر دی) په څرخکۍ (هليکوپټر) کې نږدې پينځه لس (۱۵) دقيقې. له دې امله بن لادن په اِبټ آباد کې پټ ساتل شوی و . د بن لادن د وينې پيژاند (ډي. اِن. أي.) هم د پاکستان د ستر درستيز جنرال کياني او د استخبارتو د مشر جنرال پاشا په مرسته لاسته راوړل شو. ستر درستيز کياني په دې ټينګار وکړ چې: (۱) [د امريکې] غټه قوه بايد رانشي، (۲) قوه بايد ډيره اغيزمنه وي، او (۳) بن لادن بايد ووژل شي. د دواړو خواو تړون د ۲۰۱۱ د جنورۍ په پای کې رامنځته شو. پاکستان يو څلور کسيز امريکايي ټيم ته اجازه ورکړه چې د بحريې يو عسکر، د مرکزي استخباراتو يو تن، او دوه تنه د ارتباطاتو چارپوهان پکې شامل وو. دغه ټولګی به په تربيله غازي کې ارتباطي دفتر لري.
يو پاکستاني چې د پاکستان د استخباراتو د مشرتابه سره يې «نږدې اړيکی» لرلې، «ما [سيمور هيرش] ته وويل» چې «ستاسې [امريکې] د غټانو سره يوه معامله وه. موږ ډېر ميل نه لاره، خو بايد دا شوي وای: د امريکايي مرستو د پروګرامونو د غوڅولو له کبله ....» ذکر شوي پاکستاني ليکوال هيرش ته زياته کړه چې په امريکا کې د جنرال پاشا ملاقات دا نتيجه هم ورکړه چې **امريکې پاکستان ته د افغانستان په چارو کې «ډېر ازاد لاس» ورکړ** ځکه چې هلته د امريکې د پوځ کميدل پلان شوي وو [توري د ځيرکيار له خوا پيړ شوي دي].
د پاکستان د استخباراتو يو تن اړيکمن د امريکې د خاصو قواو د امريکايي عسکرو سره په څرخۍ (هليکوپټر) کې ناست و. هغوی يې په تياره/تورتم کې د بن لادن کلا او پاس د بن لادن استوګنځي ته ورسول. بن لادن په دريم پوړ کې اوسيده. په لومړي او دوهم پوړ کې د اوسپنو درنې دړې د چاودونکو موادو په واسطه والوزول شوې(دړې وړې شوې). د بن لادن ميرمن وهم نيولې وه او چغې يې وهلې. زنګون يې په مرمۍ يا مرميو (مړدکي) وويشتل شو. په غير له هغو مړدکيو چې په بن لادن ولګيدل، نورې ډزې نه وې شوې. خو ليکوال سيمور هيرش وايي چې د ولسمشر اوباما قصه بل شان وه.
دوه امريکايي ويشتونکي په دريم پوړ کې، ښي لاس ته په دوهمه دروازه کې ننوتل لاړل. بن لادن را غونډ شوی و او د ملاستې کوټې ته ننوت او هلته وويشتل شو، وسله يې نه لرله .څو ورځې وروسته، د امريکې د دفاع وزارت دا موضوع توضيح کړه چې:(الف) د وژنې په مهال بن لادن وسله نلرله ، او(ب) بن لادن له خپلو ميرمنو نه، يوه ميرمن هم د ځان د ساتنې لپاره د ډال په څېر نه وه استعمال کړې.

نور بيا

Dr. rer. pol. Rahmat Rabi Zirakyar, Califorina, USA
zirakyar1234@yahoo.com


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ